مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af
څلورم کال، اوومه او اتمه ګڼه، د منی ۱۳۹۸ هـ.ش

# په اسلامی شریعت او قانون کې د حبس مشروعیت تاریخی بهیر موخې او اغیزي

# Permissibility, historical process, objectives and effectiveness of imprisonment in the light of Islamic law and Sharia

DOI: 10.64104/v4.Issue7-8.n2.2019

محمد مصطفی حماس[1]

ISSN: 3078-9583 (Online)   ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۳۹/۰۹/۱۶   تعداد صفحات: ۲۳   از ۴۱ تا ۶۳

## پیلیزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید ا لانبیا والمرسلین وعلی اله وصحبه اجمعین وبعد

اسلامی شریعت د ژوند د یوه بشپړ نظام په توګه د انسانانو ټولې چارې تنظیموی، او انسان هم په خپله یو ټولنیز وګړی دی ، چې په یوازې توب سره ژوند او چارې مخ ته نشی وړی ، طبیعی ده چې له نورو سره به راشه درشه را کړه ورکړه ناسته ولاړه کوی ، او په دې لړ کی به کله کله د مصالحو ، منافعو ټکر راځی ، آن تردې چې یو دبل په حقوقو باندې تیری او تجاوز کېږي، نو ځکه اسلامي شریعت د ټولنې د ښه نظم ، د حقوقو تامین او خوندي ساتلو لپاره یو لړ جزا ګانې هم ټاکلی دی چې په ټوله په دوه برخه ویشل کیږی حدود او تعزیرات

حبس د تعزیری جزا په توګه، د ارج مرج ، تعدی او تجاوزد مخنیوی لپاره په شریعت او بشری نافذه قوانینو کې له اوږدې مودې مشروع او دود دی ، او د ټاکلو موخو د لاسته راوړلو لپاره مشروع ګڼل شوی ، ددې سره سره په فرد او ټولنه څه مبثت او منفي اغیزې هم کوي ، دا بحث می په د موخو او اغیزو دبیان په موخه راټول کړی ، ترڅو لوستونکو ته جوته شی چې ترکومه بریده دا موخه لاسته راغلی ، او په ربښتیا هم محابسو د فرد په ټولنیز جوړښت ، او اخلاقی سمون څه اغیز کړی او که د کرکې ، نفرت ، تنبلی ، په مراکزو اوښتی

زما مینه داوه چې یو میدانی بحث یا څېړنه ترسره کړم ، او دوخت د تنګوالی، او له محابسو څخه له نږدې لیدنه ، له بندیانو مرکې او د زړه خواله کول هم په اسانی سره نه ترسره کېدل، په دې برخه رسمی دولتی اجازې ، منډې ترړې هم یو لوی درد سر او د واقعی بحث په لاسته را وړلو کې یو خنډ ګڼل کیږی زمونږ هیواد کې ستونزې بې شمېره دي، دا کلی او سیمه به نه وی چې یا خپله او یا بې خپل او

[1]. د سلام پوهنتون، د شرعیاتو او قانون پوهنځی استاذ، msayedmustafa@gmail.com

خپلوان د زندان د تمبو تر شاه شپې او ورځې نه وي تېرې کړې،نو که دا بحث ولوستل شي، کېدایشي د حبس د موخو او واقعیت تر منځ واټن ورته څرګند شی.

د څېړنې د ټاکلو لاملونه:

هر لیکنه ځانګړې انګیزه او لاملونه لري زما ددې نیمګړې څېړنې هم یو شمېر لاملونه شته چې په څو ټکو کې یی یادونه کوم

- لومړ: د محابسو او توقیف خانو قانون مې چی له نظر تېرکړ، په زړه پورې مادې یې در لودې ، او بیا مې چې د یو شمېر بندیانو خاطرې او کیسی واورېدې زړه بوړونکی وی ، ربړول ، شکنجه اذیت او آزار د توقیف اوتحقیق په مهال په یوه پدیده بدل شوی
- دوهم : د بشر د حقوقو د ۱۳۹۴تحقیقی کلنی راپور مې هم له سترګو تېرشو،
- دریم : غوښتل می چی د محابسو اړ وند ادارو او په ځانګړي توګه د تقنین ریاست د محابسو د وضعیت په اړه څه سپارښتنې هم ولرم.

**د حبس تعریف**

حبس عربي کلمه ده بندي ساتلو او منع کولوته وایي، عرب وایې (حبسه یحبسه)، ای منعه یمنعه، منع یې کړ، اومنع کوي یې (2)اوهم حبس په معنی دې نیولو سره دی، حبسه أی أمسکه ویې نیولو (3)

حبس په اصطلاح کې فقهاوو داسې تعریف کړی:

تعويق الشخص ومنعه من التصرف بنفسه والخروج إلى أشغاله ومهماته الدينية والإجتماعية، سواء كان ذلك فی بيت أومسجد أو فی مكان مخصص للحبس (4)

ژباړه: ځنډول او منعه کول د یو شخص دي چې ازاد کاربار وکړي، دیني او ټولنېزو چارو ته ووزي، که دا حبس یې په کور کې وي، یا په مسجد کې او یا د بند په موخه کوم ځانګړی شوی ځای (محبس) کې ترسره شي.

**د حبس مشروعیت**

فقهاء په مجموع کې دحبس په مشروعیت اتفاق لري، چې په یو لړ شرعي نصوصو او تاریخي واقعو یې استد لال کړیدي لومړي غواړم د حبس مشروعیت د شرعی مصادرو په رڼا کې د اولویت او اهمیت پر بنسټ یاد کړم.

- د مشروعیت دلائل له قرانکریم څخه:

الله فرمايي: (وَاللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُواْ عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىَ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلاً ) (نساء51)

ژباړه: او له ستاسو ښځو څخه چې کومې مرتکبې د زنا شي، نوڅلور شاهدان وربان‌دې ګواه کړئ، که هغوی ګواهي ورکړه، نو په کورونو کې یې بندې وساتۍ ترڅو مرګ ورته را ورسیږي او یا یې په اړه الله عزوجل بل حکم وټاکي.

[2] القاموس المحيط ماده حبس , مجدالدين محمد بن يعقوب فيروز آبادی الشراز ابادی , المطبعة الأميرية, سنة 1301

[3] الفروق اللغويه الحسن بن عبدالله بن سهل بن سعيدأبو هلال العسكری ج1ص 190الناشر دار العلم والثقافه

[4] تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكامابراهيم بن علي بن محمد ابن فرحون ج ۲ ص 150 طبع شمېر ندی یاد شوی

امام بیضاوي(5) د یاد آیت په تفسیر کې فرمایي: له امسکوهن مراد دا دی چې په کورونو کې یې بندي وساتئ،او کورونه ورته بندي خانې وګرځوئ.

که څه هم حبس د زنا حد په اړه د جلد او یا رجم په وجه منسوخ دی، اما په باقي امورو کې یې حکم په خپل ځای باقي پاتې دی.

په بل ځای کې الله فرمايې: (تَحْبِسُونَهُمَا مِنْ بَعْدِ الصَّلَاةِ فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ إِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِي بِهِ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللَّهِ إِنَّا إِذًا لَمِنَ الْآثِمِينَ )(مائده 106 )

دغه دوه کسان له لمانځه څخه وروسته را بند کړئ، په الله تعالی به سو ګند کوي که شکمن شوي، چې ددنیا د مال او د خپلوانو په ګټه به ګواهي نه وايي، او د الله تعالی ګواهي به نه پټوي، که چېرې مو دغه کار وکړ، پرته له شک مونږ به ګنهکارانو څخه وو[6].

معاصر عالم امام ابو زهره (7)وایې: والحبس الإمساك لأداء الشهادة اللازمة حتى تؤدى(8)

حبس په معنی د امساک سره دی یعنې بندي ساتل ترڅو هغه اړینه او لازمه ګواهي ادا کړي.

په بل ځای کې الله تعالی فرمايې: (وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ) ( توبه ۵ )

ويې نیسئ، بندي یې کړئ، او په هر ځای کې کمین ورته ونیسئ، او که چېرې دوی توبه وایستله، او لمونځ یې قایم کړ، او زکات یې ورکړ، نو بیايې خوشي کړئ( آزاد یې کړئ) بېشکه الله تعالی بښونکي او رحم واله ذات دی.

او مخکې مو یادونه وکړه چې د حبس یوه معنی حصر هم ده، او په لغوي معنی کې سره نږدیوالی لري.

او په بل ځای کې الله تعالی فرمايې:(فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً) (محمد 4)

او کله چې له کافرانو سره په جګړه کې مخامخ شوی، نو ورمېږونه یې ووهئ، ترڅو په دوی کې ښې وینی تویی کړئ،بیا یی قیدونه محکم کړي، بیا یی یا په احسان سره ایله کړئ، یا مال فدیه ترې واخلئ.

او هم الله تعالي فرمايي: (إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ) المائده 33

مخکې مو یادونه وکړه چې ځینوعلماوو له (ینفوا )څخه حبس مفهوم اخیستی دی.

یاد ټول آیتونو د حبس په مشروعیت څرګند دلیل دی، اوپه ځانګړې توګه د محمد سورت څلورم نمبر آیت چې د اسیر په کلک تړلو امر کوي.

---

[5]- امام بیضاوي: نوم يي ناصرالدين ابوالخير عبدالله بن عمر بن محمد د شيراز قاضي وو، او هم وتلی عابد عالم، او علماوو ډير ستايلی دي، او له مشهورو تاليفاتو څخه يی، التنزيل و اسرار التاويل دي او هم تفسير البيضاوی، په شيرازی کې په بيضا نامی ښار تولد شوی او په کال ۱۲۹۲م . په تبريز کې وفات شو ی [5]

[6] مولوی عبدالباری غیرت ،د قرانکریم ژباړه

[7] امام ابو زهره , نوم يي محمد بن احمد بن مصطفی بن احمد چې په ابوزهره سره مشهور وو، په کال ۱۸۹۸م تولد او او په کال ۱۹۷۴ م کال وفات شو ی دي، د مصر له هيود څخه دي، اوپه يوه دينداره کورنۍ کې يی لوی شوی، مور يی حافظه دقرانکريم وه، او دهغی په مرسته يی له نه کلنی وړاندي قران حفظ کړ، دوخت مشهور عالم تری جوړ شو او مشهور کتابونه يی دادي: نظريه العقد، الوقف واحکامه، خاتم النبيين، الوصيه وقوانينها، منبع: د ملتقی الفقهاء[7]انترنيتی سايټ

2: زهرة التفاسير: محمد أبوزهرة جز 1 ص 2384 دار الفكر العربي دطبع يادونه نده شوې

### دحبس مشروعیت د نبوي احاديثو په رڼا کې:

دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم احادیث او فعلي سنتو لره که په ځیرسره کتنه وشي، نو څرګنده به شي چې هم يې په حبس امر کړيدي،او هم يې عملا خپله يو شمېرکسان په حبس محکوم کړي دي:

1. عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيُّ الْوَاجِدِ يُحِلُّ عِرْضَهُ، وَعُقُوبَتَهُ» قَالَ(9) ابْنُ الْمُبَارَكِ:(10) «يُحِلُّ عِرْضُهُ يُغَلَّظُ لَهُ، وَعُقُوبَتَهُ يُحْبَسُ لَهُ». (11)

- ❖ عمربن شريد له خپل پلار څخه او هغه له رسوالله صلی الله علیه وسلم روایت کوي چې فرمايي: د مالداره شخص پور ځنډول ظلم دی ، سپورې او ستغې ویل او سزا ورکول يې روا ګرځوي.
- ❖ ابن مبارک وايې: د سزا تفسیر په حبس سره دي.

2. په بل حديث شريف کې رسول الله صلی علیه وسلم فرمايي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ, عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَمْسَكَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ وَقَتَلَهُ الْآخَرُ يُقْتَلُ الَّذِي قَتَلَ , وَيُحْبَسُ الَّذِي أَمْسَكَ»(12)

- ❖ له ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دي چې هغه له نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه روايت کړي
- ❖ چې فرمايي: کله چې يو کس بل کس ونيولو اوبل سړي ووژلو، نو وژونکی به وژل کېږي، اوهغه کس چې نيولی يي وو هغه به بندي کېږي.
- ❖ په دې حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په حبس باندې امرکړیدی،او دا امر د حبس د جواز لپاره مهم او کافی دلیل کېدلی شي.

3. عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ، فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ سَيِّدُ أَهْلِ اليَمَامَةِ، فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي المَسْجِدِ، فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ»، قَالَ: عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ خَيْرٌ(13)

- ❖ له ابوهريره رضی الله څخه روايت دی چې ويل يې: پيغمبر صلی الله عليه وسلم لښکر د نجد لوري ته واستولو اود هغه لوری نه يې دبني حنيفه له قبيلی نه يوکس را وست چې ثمامه بن اثال نومېده، اود اهل يمامه قبيلی مشر وو، د جومات په يوه ستنه يې وتړلو، وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[9] سنن أبو داود , أبو داود سليمان بن الأشعث السجستاني كتاب الأ قضية, باب فی الحبس فی الدین د حدیث شمېره :۳۶۳۰.

2 ابن المبارك: عبدالله بن المبارك بن واضح حنظلي تميمي او کنيه يي ابوعبدالرحمن دي , مجاهد, عالم , حافظ تاجر او شاعر وو , اوزيات عمر يي په سفرو نو کې تير کړي، چې دجهاد او تجارت په موخه يی ترسره کړي دي

دحديثو، فقه، او عربی علومو وتلی عالم وو، او مشهور کتاب يی الجهاد دي په کال ۱۸۱ هج دفرات په څنډو په بهيت نومی ځای په داسی حال کې وفات شو چې درومیانو سره له جګړی را ستون شو . اعلام د زرکلی وګوری

[11] البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير ج 6ص 656 ,

ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (المتوفى: 804هـ)

المحقق: مصطفى أبو الغيط و عبدالله بن سليمان وياسر بن كمال

الناشر: دار الهجرة للنشر والتوزيع - الرياض-السعودية

الطبعة: الاولى، 1425هـ-2004م

[12] السنن الكبرى للبيهقي كتاب النفقات ، باب الرجل يحبس الرجل للآخر د حديث شمېره ۱۶۴۵۲

[13] ـ الجامع الصحيح ، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، حسب ترقيم فتح الباري، كتاب بدء الوحي د حديث شمېره 2422

ورته راووت او ترې ويې پوښتل چې ثمامه ستا څه حال دی؟ هغه ورته وويل چې ای محمده! په خير يم.

- اوږد حديث يې ذکر کړي، بيا يې وويل چې ثمامه(14) خوشي کړئ.

**اجماع:**

له صدر اسلام څخه را نيولې تر نن ورځې د امت علماوو په دې سره اتفاق کړي،چې حبس دضرورت پر بنسټ جواز لري، او عملا صحابه وو دا عمل ترسره کړيدی او چايې مخالفت هم ندی کړي، او په ځانګړې توګه کله موچې د حبس د مشروعيت لپاره قراني او نبوي نصوص وړاندې کړل،په خپله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له لوري په بندي کولو امر کول، او د خلفاوو راشدينو په دوران کې حبس تر سره کېدل، او له هغې وروسته مجرم د حبس په جزا د يوې تعزيري سزا په توګه پر حبس محکوم شوی دی، او د دې اجماع چا انکارهم ندی کړی.

**عقل:**

تعزيري جزا همدې ته وايې چې شارع يې اندازه نه وي ټاکلې، بلکه دوخت حاکم او قاضي ته يې واک سپارلی وي،او د مجرم جرم او شخصيت ته په کتلو سره جزا ورکوي، ځکه چې انسانان يوډول ندي،د چا لپاره به حبس مناسب وي، اود بل لپاره وهل، د بل لپاره مالي جريمه، د چا لپاره لفظي ګواښل او داسې نور، اوعقل هم تقاضاکوي چې د يو شمېر کسانو لپاره بايد حبس د جزا په توګه وټاکل شي.

له دې ټولو يادو دلايلو څرګنده معلومېږي چې حبس يوه اړتيا ده، او د ټولنې د نظم او حقوقو د ساتلو، او تيري نه کولو په موخه ترسره کېږي، او دا چې کوم منفي او مثبت اړخونه لري، په دې اړه به په نږدې راتلونکو پاڼو کې بحث وکړو.

**د حبس مشروعيت په وضعی قوانينو کې:**

حبس يوه تعزيري سزا ده، او تعزيري سزاګانې بېلابېل ډولونه لري،چې يو يې هم حبس کېدلی شي، دا چې د افغانستان د عدليې وزارت لخوا د محابسو قانون تقنين شوی، او اړوند ادارو له خوا تصويب شوی، نوحبس په خپله د يوې تعزيري سزا په توګه د افغانستان په قوانينو کې شتون لري.

پايله دا شوه چې د اسلامي فقهې او ملي نافذه قوانينو دريز د حبس د مشروعيت په اړه يو دی،او دواړه د حبس په مشروعيت حکم کوي.

**د حبس تاريخي بهير**

جاهليت او صدر اسلام کې د حبس او محبس څرنګوالي ته لنډه کتنه

- له اسلام څخه وړاندې

له اسلام څخه وړاندې زمانې ته دجاهليت زمانه وايې، په هغه زمانه کې د عربوژوند په قبيلوي نظام ولاړ وو، او کوم خاص قانون او نظام ته ژمن نه وو، اونه يې سر ورته ټيټولو، مګر کومې سيمې چې د الحيره (15) تر واکمنۍ لاندې وې، حيره او يو

[14] ـ ثمامه بن اثال بن النعمان اليمامی د بنی حنيفه له قبيلی څخه وو، او د اهل يمامه له اشرافو څخه ګڼل کېدلو، او جليل القدر صحابی دي، او کله چې اهل يمامه مرتد شول، ثمامه په خپل اسلام ټينګ پاتی شو او له مرتدينو سره به جګړه کې هم برخه درلوده، او په کال ۱۲ هج کې وفات شوی دي

[15]حيره يو پخوانی ښار دي سمندر ته نږدې د کوفې په سيمه کې موقعيت در لود . چې پخوا هلته سمندر مو جود وو، چې اوس دکوم ښار او سمندر نښانی هلته نه ليدل کېږي او له منځه تللی دي .او حيره د بنی لخم د پادشاهانو کور ګڼل کېدلو

شمېر هغه سیمې چې شام او فلسطین ته نږدې وې، دغساسیانو تر ولکې لاندې وې، جنګ او جګړه د قبایلو له یوه وخت تر بله یوه تکراري خبره وه، چې ډېر ځله به جګړې تر ډېرې مودې غزېدلې، نو طبیعي خبره ده چې یو د بل لوري کسان به په اسارت کې لوېدل، اوپه دې صحرایې ژوند کې هغوی د محبس د ودانۍ په نوم څه نه در لودل، بلکه اسیربه په خېمه کې ساتل کېدلو، یابه یې چاته ساتنه سپارل شوی وه، اویابه په ونوپورې تړل کېدلو، اویا به په رېګونو کې ځای ورته ژور شو اود درنو کړیو، زولنو اوځنځیرونو له امله یې په ریګونو کې تېښته نشوای کولی، په داسې حال کې چې خپل انساني ضرورت یا قضا حاجت به یې په همدې ځای کې ترسره کولو اوهمدلته به ویده کېدلو، دومره قوت لایموت خوراک به ور کول کېدلو چې هسې ورباندې ژوندی اوسي (16)

دجاهلیت په زمانه کې مشهورې بندي خانې

که د جاهلیت زمانې د یوشمېرشعري دیوانونو صفحې واړ ول شي، نو د شاعرانو له قصیدو او شعرونو به څرګنده شي چې هغوی د زندان په تورو تمبو کې خپل درد او مظلومیت د واکمنو د عاطفې دجلبولو په موخه شعرونه وېلي دي، شکنجو او تعذیب ته یې شعري انځور ورکړیدي، چې د هغو زندانونو څخه د یو شمېر په لنډو ټکو کې یادونه کوم:

1. **د نعمان بن منذر محبس**

دی محبس چې په عراق کې یې موقعیت درلود، د وخت وتلی شاعرعدي بن زید اچول شوی وو، چې ټول بدن یې په زنځیر او زولنو پوښلی وو، اوکله یې چې کوچنۍ لور لیدو ته ور غله، او غوښتل یې چې خپل پلار ښکل کړي، هغې د پلار بدن په زولنو او ځنځیرونو پوښلی احساس کړ، چې تر غاړې پورې یې ځنځیرونو او زولنې تاو دي.

او پلار یې داسې یو شعر وویلو چې په داسې بد حالت کې د کوچنۍ لور له ده څخه لیدنه د هغې د ذهني ځور ونې باعث شو (17)

2. **دبحرینو زندان**

د وخت واکمن عمرو بن هند (18)دبحرین والی یا مسؤل ته فرمان صادر کړ، چې د وخت وتلی شاعر طرفه بن العبد زنداني کړي، دا ځکه چې د هغه هجوه یا بدي یې بیان کړې وه، تردې چې په همدې زندان کې یې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

3. **په کورونو کې حبس**

زنداني به زولنې وو، لاس اوپښې تړلی به په یوه کورکې د زنداني په توګه ساتل کېدلو او دکور خاوند ته به د هغه څارنه اوساتنه سپارل کېدله د بېلګې په توګه:

- الف: معبد بن زراره (19) دنعمان بن منذر دواکمنۍ په مهال په طایف کې دیوچاپه کور کې زنداني او هلته یې ژوند له لاسه ورکړ.

---

16السجن وموجباته محمد بن عبدالله الجریوي ص 184 الناشر ادارة الثقافه والنشر بالجامعه , عام 1991

17 یاده مرجع ص 185

3 عمرو بن هند چې اصلی نوم یی عمرو بن المنذر اللخمی دی، د جاهلیت په زمانه کې د حیره پادشاه تیر شوی، او مور یی هند نومیده، ځکه خو مور ته په نسبت سره مشهور دي، او ۱۵ کاله یی پادشاهی دوام وکړ، او بالاخره عمرو بن کلثوم ووژلو، الأعلام خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي (المتوفى: 1396هـ)

1د معبد بن زراره پېژندنه: اصلی نوم یی قعقاع بن معبد بن زراره الدارمی التمیمی دي، د عربو له مشرانو او اشرافو څخه وو، د زیاتې سخا او کرم له وجې نه ورته الفرات ویل کېدل، شاعرانو یی په ستاینه کې قصیدې لیکلې، او د خپل قوم تمیمیانو سره په یوه پلاوي کې ملګری وو، او د پیغمبرﷺ حضورته راغلو، او په اسلام مشرف شو.

- با: یوکس په نامه د عبد یغوث بن وقاص الحارثي وو چې دا شخص هم بنوعامر د یوې زړې میرمنې په کور کې بندي کړ، په داسی حال کې چې په زولنو تړلی وو، اوهلته یې ساتنه کېدله (20)

### د جاهلیت په زمانه کې د بندیانو سره چلند ته لنډه کتنه

دې مطلب ته له دې امله لنډه اشاره کول غواړم ترڅو ثابته کړو چې د اسلام مبارک او سپېڅلې دین د انسان حقوقو او کرامت ته څومره ارزښت ورکړي، او انسانی کرامت او عزت ته څومره ژمن قواعد او قوانین لري، او تر څو جوته شي چې رینښتیا هم د اسلام مبارک دین د رحمت او مهربانی دین دی، لکه چې ویل کېږی: تعرف الأشياء بأضدادها، شیان په ضدونو سره ښه پېژندل کېږي.

که مونږ دجاهلیت د دورې له بندیانو سره د چلند او تعامل څرنګوالی وپېژنو، نو واضح خبره ده چې مونږ ټول بشریت ته به د دې دین حقانیت نور هم واضح شي، چې په رینښتیاهم اسلام د انسان د فطرت سره برابر دین دی، او د فرد په دنیا اواخرت کې عزت او سر لوړي، سعادت او نیکمرغي غواړي، ټول احکام یې د مصالحو او عامه ګټو پر بنسټ وضع شویدي.

له اسلام نه وړاندې د جګړې اور به تل بل وو، کله به یوه خوا یا یوه قبیله ګټونکې وه، او بله ماته خوړونکې، او کله به بله قبیله ګټونکې او مقابل لوری به یې له ماتې سره مخ وو، طبیعي خبره ده چې د جګړې په اوږدو کې اسیران نیول کېږي، انسانان وژل کېږي، ورانی راځي او داسې نور زیانونه له ځان سره لري.

که به په جګړه کې نیول شوی کس د قبیلی مشر وو، اویا به پادشاه وو، نو د هغه د آزادولو په بدل کې به زر اوښان غوښتل کېدل، او که به مهم جګړه مار وتلی او غښتلی آس ځغلونکی ونیول شو، نو د هغه په بدل کې به دوه سوه اوښان غوښتل کېدل، بندیان د متاع او جنس په توګه یې ارزښت او قېمت لوړ او ټیټ وو (21)

### د شکنجې ډولونه

1. بندي به د هغه چا ملکېت وو چا به چې په اسارت نیولی وو، که به یې خوښه وه، نو آزاد به یې کړ، اویا به یې دخپلی خوښې شکنجې ورکولې او که به یې خوښه شوه وبه یې وژلو، ډېر ځلې به له شکنجو سره سره د هغه په بدل کې فدیې غوښتلو ته ترجیح ورکول کېدله، او که به یو اسیر د څو کسانو په اسارت کې لویدلی وو، نو د هغه په بدل کې به یې فدیه واخستله او سره تقسیم به یې کړه.
2. کله به چې د اسیر خپلوانو د فدیې ورکولو نه ډډه وکړه، نوخپله غوسه به یې د شکنجو او تعذیب په ورکولو سره سړه کړه، تر دې چې تر شکنجو لاندې به یې ساه ورکړه.
3. له اسیر نه به یې خوراک او څښاک منع کولو، ترڅو په تدریجي توګه اسیر ووژني.
4. د تحقیر، سپکاوي او ذلت چلند: په داسې توګه چې کله به اسیر د مقابل لوری مهم شخص وو، لکه د قوم او قبیلی مشر، نو د هغه د فدیې په مقابل کې به یې یوه بی ارزښته او ناوړه چارپای وغوښت، په دې معنی چې نیول شوي اسیر، ددې چارپای سره برابر دی.
5. اسیر ډاره ول: په داسی توګه چې زړه یې له ویره او وحشت وچوي (22)

---

[20] الکامل في التاریخ لإبن الأثیر دارالکتب العلمیة بیروت لبنان 1 ج 381 ص

1 السجن وموجباته پخوانی مرجع ص ۱۹۳

[22] پخوانی مرجع السجن وموجباته ص ۱۹۴

په صدر اسلام کې د محابسو څرنګوالی او له بندیانو سره چلند

مخکې مو یادونه وکړه چې د جاهلیت په زمانه کې له اسیر سره چلند یوازې او یوازې د غچ اخیستلو او غوسې سړه ولو په توګه ترسره کېدلو، او کله چې رسول الله علیه وسلم په رسالت مبعوث شو، نو دبندي خانې په نامه یې کوم ځانګړی ځای نه درلود، که څه هم یو چا ته د حبس سزا ورکړل شوې ده، او امر یې هم ورباندې کړیدی، اما په بېلابېلو ډولونو او بېلابېلو ځایونو کې، کله په ستنه باندې تړل، او کله د یو چا په کور کې د بندي ساتل، او دا سې نور (23) غواړم په لنډه توګه په صدر اسلام کې د محابسو څرنګوالي څخه یا دونه وکړم:

❖ کور د یوه محبس په توګه

په صدر اسلام کې به چې کومه ښځه د زنا د فعل مرتکبه شوه نو الله تعالی یې په اړه داسی حکم نازل کړچې فرمایې: (وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ فَإِنْ شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا) (نسا ء 15)

ژباړه: او ستاسو هغه ښځې چې په فحاشي باندې راتګ وکړي، نو په دوی باندې له تاسو نه څلور نارینه ګواهان ونیسئ، که دوی ګواهي وویله، نو دا ښځې په کورونو کې بندي کړئ، تر څو مړې شي او یا الله تعالی کومه بله لاره ورته وټاکي.

دحبس په تعریف کې مو وویل چې په لغت کې د امساک، نیول، ساتل منع کولو په معنی راځي، او د اسلام په پیل کې دزنا کارې ښځې سزا دا وه چې تر مرګ پورې به په کور کې دبندي په توګه ساتل کېدله، چې دا په حقیقت کې په معاصره اصطلاح حبس ابد ګنل کېدلی شي، له دي آیت کریمه څخه په ډاګه معلومیږي چې حبس په صدر اسلام کې په کورونو کې ترسره کېدلو.

بل مثال یې دا دی چې پیغمبر ﷺ د بني نجار د کورنۍ یوه میرمن چې کبسه بنت الحارث نومېدله، د هغې په کور کې یې د بني قریظه څه کسان بندیان ساتلی وو، ترڅو یې چې سعدبن معاذ په اړه حکم وکړ (24)

**په ستنې پورې تړل دحبس یوبل ډول**

بخاري په خپل صحیح کې دابوهریره په روایت سره رانقل کوي: بعث النبي صلى الله عليه وسلم خيلا قبل نجد فجاءت برجل من بني حنيفة يقال له ثمامة بن أثال فربطوه بسارية من سواري المسجد فخرج إليه النبي صلى الله عليه وسلم فقال أطلقوا ثمامة فانطلق إلى نخل قريب من المسجد فاغتسل ثم دخل المسجد فقال أشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدا رسول الله (25)

پیغمبر ﷺ یو لښکر دنجد په لور واستولو، او هغوی د بني حنیفه له قبیلې یو کس له ځان سره راوست، چې ثمامه بن اثال نومېد، او د جومات په یوه ستنه پورې ېی وتړلو پیغمبر ﷺ ورته را ووت او ویې فرمایل چې ثمامه آزاد کړئ، ثمامه یې چې آزاد کړ، د خرما ونې څنګ ته لاړ، هلته یې غسل وکړ، جومات ته ننوت او ویې ویل:أشهد أن لا إله إلا الله و أن محمدا رسول الله

[23] مجموع الفتاوی، تقی الدین احمد بن تیمیه الجرانی ج۳۵ ص ۳۹۸، ط ۳ / ۲۰۰۵م دار الوفا للنشر والتوزیع

1السيرة النبوية لإبن هشام, عبد الملك بن هشام بن ايوب الحمير المعافري , ج ۳ ص ۲۴۰، ط ۱، دارالجيل بيروت.

1- الجامع الصحیح، د حدیث تخریج مخکې شوی دی.

دحدیث وجه دلالت داده چې رسول الله علیه وسلم دا عمل رد نکړ،چې ولې مو په ستنه تړلی دی؟، او دوه ورځې یې په ستنه تړلی لیدلو، بلکه له بندي سره یې احسان وکړ او آزاد یې کړ، او دا تقریري سنت ګڼل کېږي.

امام نووی (26)رحمه الله په دې حدیث باندې یوتعلیق او تبصره کوي، او وایي چې دا حدیث په دې باندي دلیل دي چې د بندي تړل جواز لري (27)

دا په هغه صورت کې چې د بندي د تېښتې احتمال وي، او معاصرو علماوو بیا داخبره کړېده چې کله بندي په یوه خوندي خونه کې بندي وي، نو د هغه تړل جواز نلري، ځکه چې دا په حقیقت کې یوډول ځوره ونه ده، او ثمامه چې تړل شوی وو په جومات کې وو، او د هغه وخت د جوماتونو شکل او خوندي ساتل د نن په څېر نه وو.

**حبس د یوچا تر حفاظت اوڅارنې لاندې**

کله به چې له یوچا جنایت ترسره شو، او یا به په کوم جرم متهم شو، نو په یوه مشخص ځای کې به وساتل شو، اویو پیره دار به ورباندې وټاکل شو، ترڅو ونه تښتي، اوله پیغمبر ﷺ نه دا کړنه ثابته شوې ده د مثال په توګه:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ عَلَيْهَا بِأَسِيرٍ وَعِنْدَهَا نِسْوَةٌ فَلَهَّيْنَهَا عَنْهُ فَذَهَبَ الأَسِيرُ فَجَاءَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ: « يَا عَائِشَةُ أَيْنَ الأَسِيرُ؟ ». فَقَالَتْ: نِسْوَةٌ كُنَّ عِنْدِى فَلَهَّيْنَنِى عَنْهُ فَذَهَبَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: « قَطَعَ اللَّهُ يَدَكِ ». وَخَرَجَ فَأَرْسَلَ فِي إِثْرِهِ فَجِيءَ بِهِ[28]

له أم المؤمنین عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی، چې نبي کریم ﷺ دیوه اسیر سره ورننوت، او د هغې سره څه مېرمنې وې، دوی عائشه بوخته کړه، او بندي لاړ، او کله چې رسول الله ﷺ راغی، له عائشې څخه یې پوښتنه وکړه چې بندی چېرته دی؟ هغې ورته وویل چې له ماسره مېرمنې وې، زه یی بوخته کړم، او هغه لاړ، رسول الله ﷺ وویل چې لاس د پرېشه، پیغمبر ﷺ د هغه په څارلو پسې کسان واستول ترڅویې راوست.

د دې مبارک حدیث وجه دلالت دا ده چې په خپله پیغمبر ﷺ اسیر دام المومنین عایشي رضی الله عنها په کور کې بندي کړی وو، او د هغه څارنه او ساتنه یې عائشې رضی الله عنها ته سپارلې وه.

**په ملازمت سره حبس**

ددې معنی داده چې یوځوک قرضدار ترهغه ټینګ رانیولی وي، او ورپسې وي ترڅو یې پور نه وي ورڅخه ترلاسه کړي، او ددې ډول حبس دلیل حدیث د هرماس بن حبیب دی چې سنن ابي داود روایت کړی: عن هرماس بن حبيب عن أبيه عن جده قال أتيت النبى - صلى الله عليه وسلم- بغريم لى فقال لى «الزمه» (29)

یو صحابي وایی ما پیغمبر ﷺ ته خپل یو پوروړی وروست؛ نو راته یې وویل ورسره شه، یعنې لازم ورسره اوسه.

---

[26]دامام نووی پېژندنه: نوم یی یحیی بن شرف بن مری، بن حسن، بن حسین، الحورانی دمشقی الشافعی، کنیه یی ابو زکریا ده، او لقب یی محیی الدین دي، مهم مولفات یی شرح مسلم، ریاض الصالحین، الاربعین، روضه الطالبین، امام نوی په کال ۶۳۱هج په شام کې په حران نومی ځای تولد شوی، او په ۶۷۶هج کې په یاد ځای کې وفات شوی دي. الامام النووی، جمع وترتیب احمد فرید ج ۱ ص ۲

2المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج۱۲/ ص ۸۷, أبو زكريا يحيى بن شرف بن مري النووي

[28] سنن الكبرى للبيهقي باب الأسير يوثق , د حدیث شمېره 18611

الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت

الطبعة الطبعة الثانية، 1392

[29] سنن ابي داود , ابي داود سليمان بن اشعث السجستاني كتاب الأقضية , باب في الحبس في الدين , د حدیث شمېره 3631

په دې معنی که اسیر د پور د ادا کولو توان ونلري، نو د هغه بندي کول جواز نلري، او که د پور د ادا توان لري، جواز لري حبس شي، د هغه پخواني حدیث په اساس چې فرمایې: هغه پوره وړی چې د پور د ادا کولو توان ولري هغه ته ستغې او سپورې ویل او جزا (حبس) ورکول جواز لري.

**د ښځو محبس**

د پيغمبر ﷺ په زمانه کې میرمنې د میړو او اوښانو په پنډ غالي کې حبس کېدلې چې هغه پنډغالی د مسجد نبوي مخې ته موقعیت درلود، او د حاتم لور چې د طي قبیلی د بندیانو او غنیمتونو په جمله کې ونیول شوه، د ضرورت په اساس یې په مؤقت ډول مسجد نبوي ته مخامخ د اوښانوپه پنډغالي کې ساتله دا ځکه ځانګړې محبس نه وو موجود، تر دې چې څو ورځې وروسته یې د خپل قوم له ډاډمنو کسانو سره د جامو په ورکړې رخصت او آزاده کړه، دا وا قعه د مېرمنو په جلا توګه په محبس کې د ساتلو پیغام رسوي، او بل لوري ته د پيغمبر ﷺ له بندي او په ځانګړې توګه له مېرمنې سره چلند او په درناوي او احترام باندې ثرګند دلیل دی.

نن که څومره د بشرحقوقو خلک نارې پورته کوي، او د بندیانو د حقوقو په اړه خلک ادارې جوړه وي، حقوق یې ټاکې، په کوم درناوي او احترام چې رسول الله ﷺ او صحابه وو کرامو له بندیانو سره چلند کړیدی، بل مثال یې نشي پیدا کېدلی چې ستاسو مخ ته یې لنډ مثالونه اېږدم.

**په نبوي عصرکې له بندیانو سره چلند**

د اسلام د څرک او نور په خپرېدلو سره د کفر او جاهلیت تیارې اوتروږمۍ ورو ورو مخ په ختمېدو وې، لر اوبر د اسلام او ایمان په رڼا روښانه کېدل، د ظلم ځای عدالت نیولو، په ځانګړې توګه کله چې پيغمبر ﷺ په مدینه منوره کې د اسلام سیاسي نظام بنسټ کېښود، او د اسلامي نظام ریښې په ځمکه کې ټینګېدلې او د خلکو زړونه او عقلونه د ایمان په رڼا روښانه کېدل، د خلکو په زړونو باندې حکومت کېدلو، حکومت په ریښتینې معنی رحمت ګڼل کېدلو، عدالت د اسلامي نظام یوه بنسټیزه ستنه بلل کېدله، ځکه به مجرم د خپل عمل سزا لیدله، اما محبس او له محبوسینو سره چلند دجاهلیت او اوسني حالت سره کاملا متفاوت وو، بندي به د محبس په نامه په کوم ځانګړي ځای کې نه ساتل کېدلو، بلکه په کوم شکل او ډول به چې صحابه وو ژوند کولو همالته به بندي هم ساتل کېدلو، اما ترڅارنې لاندې، هغه څه به یې خوړل کوم شي به چې صحابه وو خوړل، اوتل به نبي کریم ﷺ خپلو صحابه ووته دا توصیه کوله چې له بندیانوسره نېک او غوره چلند وکړي، ددې لپاره چې د خوړ نبي کریم ﷺ وصیت پرځای اوعملي جامه ور واغوندي، صحابه کرامو له بندیانو سره ډېر غوره چلند کولو، تردې پورې چې د خوراک اوڅښاک له پلوه به یې په خپلوځانونووړاندې کول.

**دبیلګې په توګه:**

وعن أبي عزيز بن عمير أخي مصعب بن عمير قال: كنت في الأسارى يوم بدر، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:استوصوا بالأسارى خيرا وكنت في نفر من الأنصار، وكانوا إذا قدموا غداءهم وعشاءهم أكلوا التمر وأطعموني الخبز بوصية رسول الله صلى الله عليه وسلم إياهم (30)

1 المعجم الكبير: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، د حديث شمېره: 18408

له ابي عزيزبن عمير چې د مصعب بن عمير ورور دی، وايې چې زه د بدر په ورځ د بنديانو په ډله کې وم، او پيغمبر ﷺ وفرمايل: چې له بنديانو سره ښه چلند وکړئ، او زه د انصارو له يوې ډلې سره وم، خو کله به يې چې د غرمې او ماښام ډوډۍ راکوله، نوهغوی به خرما خوړله اوماته به يې د رسول الله ﷺ د وصيت په خاطر د غنمو ډوډۍ راکوله.

د يادونې وړه ده چې د غنمو ډوډۍ هغه وخت له خرما څخه زيات ارزښت درلود.

پيغمبر ﷺ هېڅکله نه خوښول چې بندي اذيت، شکنجه او ځورول شي.

پيغمبر ﷺ د ټول عالم لپاره رحمت دی اوپه ځانګړي توګه د ټول انسانيت لپاره او دا ترحم او شفقت يې بنديانو ته هم شامل وو، لکه مخکې مو د ثمامه بن اثال سره دنېکي کولو يادونه وکړه چې دوه ورځې پرله پسې يې د هغه د حالت پوښتنه کوله، او هغه به ورته ويل چې ښه يم، تر دې چې هغه يې آزاد کړ، او د همدې نېک چلند، او لوړو اخلاقو په نتيجه کې ثمامه بن أثال دخرما ونې ترڅنګ غسل وکړ، او مسلمان شو.

بل مثال يې د هوازن قبيلې پلاوی (هيئت) د رسول الله عليه وسلم حضورته راغي او له هغه ﷺ يې وغوښتل چې د هغوی د بنديانو په اړه له دوی سره احسان اونيکې وکړي، کوم چې د حنين په غزا کې د هغوی زامن او ميرمنې اسيران شوي وو، پيغمبر ﷺ د هغوی د غوښتنې په نتيجه کې ټول بنديان پرته له کوم شرط او قيد ورته بخشش کړل (31)

لکه مخکې مو هم يادونه وکړه د حاتم طايي لور چې د مسلمانانو په اسارت کې لوېدلې وه، او بيا نبي کريم ﷺ د انساني او اسلامي لوړو اخلاقو له مخې نه يوازې دا چې هغه يې آزاده کړه بلکه د هغې عزت او اکرام يې هم وکړ، يو خو دا چې دا يوه ميرمن وه، د ترحم او اکرام وړ وه، او بل دا چې پلاريې د سترې سخا، ورکړې، د نېک خوی، او د لوړو اخلاقو او عاداتوڅښتن وو.

## د خلفای راشدينو په زمانه کې د محبس څرنګوالی

مخکې مو يادونه وکړه چې د پيغمبر ﷺ او هم د لومړي خليفه ابوبکر صديق رضی الله عنه په وخت کې د محبس په نامه کوم ځانګړي ځای وجود نه درلود، بندي کله په کورونو، کله په مسجد او کله په پنډ غالي کې ساتل کېدلو، او کله به يې ساتنه يوچاته سپارل کېدله، ترڅو يې تر ټاکلې وخت پورې څارنه وکړي.

اما د دوهم خليفه عمرفاروق په وخت کې بېلابېل نوښتونه را منځ ته شول، اوڅه موده وروسته يې په مکه مکرمه کې يو کور واخيست، او د محبس په توګه يې کار تری اخسيت (32) نوپه اسلامي تاريخ کې دا لومړی محبس ګڼل کېږي، د دې محبس جوړولو له لاملونوڅخه يو هم دا وو چې اسلامي فتوحاتو ورځ په ورځ پراخېدل، د اسلامي دولت وګړي او رعيت زياتېدل، دې او څه نورو اسبابو غوښتنه کوله چې دمحبس په توګه بايد يو مقر موجود وي، چې دبېلابېلو جرمونومرتکبين د تاديب او تعزير په توګه په کې وساتل شي، طبيعي خبره ده چې د مسلمانانو د نفوسو په زيادت سره، ځينې وخت په حقوقو تعدي، تيرى او خلاف ورزی را منځ ته کېږي، نو د ټولنې د نظم او امنيت د ساتلو په موخه اړتيا ليدل کېدله چې يو ځای بايد د محبس په نامه موجود وی.

---

[31] السيرة النبوية لإبن هشام جز 2 ص 288, پخواني طبع

عيون الأثر في فنون المغازي والشمايل والسير محمد بن عبد الله بن يحي ابن سيد الناس جز2 ص 244 ,دطبع يادونه نده شوې

[32] عمارة السجون , عبد الوهاب مصطفي ضاهر ص 15 بيروت لبنان ط ۱ /۲۰۰۱۴م

### د عثمان او علي رضی الله عنهما په خلافت کې محابس

د عثمان رضی الله په وخت کې دمحبسونو په اړه کوم خاص تغییر را منځ ته نه شو، کوم محبس چې عمر رضی الله عنه جوړ کړي وو، له هغې يې کار اخيست، اما د علي رضی الله عنه په وخت کې فتنې جنجالونه، او د اسلامي دولت رعيت هرڅه مخ په زياتيدو وو، نوځکه زندانونه هم زيات شول , طبيعی ده چې څومره د انسانانو جمعيت زياتيږي، صالح او غير صالح د واړه طبقې په ټولنه کې ژوند کوي، د وخت او زمان غوښتنه وه، او علي رضی الله عنه په کوفه کې د محبس په توګه ځای جوړ کړ (33)

### معاويه رضی الله په زمانه کې د محابسو وسعت

دشام، مصر او نورو فتوحاتو په رامنځته کېدلو سره اړتيا ليدل کېدله چې محابس بايد په مشخص شکل جوړ شي، د معاويه بن ابی سفيانτ دخلافت په دوران کې داسی محابس جوړ شو ل چې پيره داران يې در لودل، او ځانګړی نظام يې درلود، او د عمر بن عبدالعزيزτ په خلافت کې لدې څخه نور هم منظم شول چې هر محبس به دفتر او ديوان درلود اومحبوسين به دجنس عمر او نورو ملحوظاتو پربنسټ يوله بل جلا او بېل ساتل کېدل.

دا چې اسلامي دولت د جغرافيې له مخې وسعت او پراختيا ومونډله، نو د آسانتيا په موخه د محابسو يا زندانونه شمېرنور هم زيات شو، ترڅو يې کورنۍ هم له بنديانو په اسانی ليدنه وکړي د هغې محابسو له جملې نه:

1. په شام کې ددمشق محبس او هم د حلب محبس، د دمشق خضرا نامي محبس، د دمشق کلا په نامه محبس (سجن قلعه دمشق) په دمشق کې دبلقاء نامي محبس
2. په عراق او نږدو سيمو کې د بغداد محبس او په کوفه کې د شريح محبس، په فارس کې د الري محبس د البصرې محبس، او هم د بصرې بيضاء محبس اوداسې نور.
3. په عربی جزيره کې په مکه کې د عارم په نامه محبس چې د دارالندوه ترشا يې موقعيت درلود او په اصل کې هماغه کور وو چې عمربن الخطاب رضی الله عنه اخيستی وو، او د محبس په توګه يې کارتری اخيست، او په نوي طرز ودانۍ په کې جوړه شوه، او دا محبس د حجاج بن يوسفτتر دوران پورې پاتې شو، اوهغه به هم بنديان په کې ساتل، د مدينې په محبس کې به غله اونورمجرمين ساتل کېدل، همداراز په مدينه منوره کې د ابی الحسن الماوردي په نامه محبس او د مکې او مدينی ترمنځ د عسفان په نامه محبس او د يمن محبس.

او په مصر کې د قاهرې محبس او د اسکندريې محبس د دې محابسو يادونه مې ځکه وکړه چې اسلامي تاريخ او سياستوالو دې ټکي ته جدي پاملرنه کړې وه، او د خپل وخت اړتيا يې لېدله او بايد ووايم چې علي رضی الله عنه به په محابسو ګرځېدلو او دبنديانو صحي او اجتماعي حالت څارنه به يې کوله تر څو يې په حق کې زياتی ونه شي. (34)

بايد ووايو چې په اسلامي تاريخ کې د محابسو ايجاد ته د ضرورت پر بنسټ پاملرنه کېدله، په هغه کې کاملا اسلامي اخلاق، معيارونه، حقوق او انساني کرنې په پام کې نيول کېدل، دا چې نن سبا نړيوال د بنديانو د حقوقو نارې وهي، او په

[33] السجن وموجباته في الشريعة الاسلاميه , د كتور محمد عبد الله الجريوي ج 1 ص 250, طبع 1, الناشر ادارة الثقافة والنشر بجامعة الامام محمد بن سعود

[34] عمارة السجون ص 16 تاليف: عبد الوهاب مصطفي ضاهر بيروت لبنان عام طبع 2014

نظام الحكومة النبوية المسمي بتراتيب الإدراية , محمد عبد الحي الكتاني ج 1 ص 299

الناشر: شركة دار الأرقم بي ابي الارقم لطباعة والنشر والتوزيع

عملي لحاظ ډيرى بنديان له خپلو حقوقو بې برخې دي، وينا او عمل يې ځمكه او اسمان سره توپير لري، او پيغمبر ﷺ كله چې يوه وينا او سپارښتنه وكړه چې (استوصوا بالاسارى خيرا[35]) دا بيا په عمل كې دومره پلې شوه چې صحابه كرامو د بنديانو داسې عزت كولو لكه د مېلمه، په دې معنى چې ښه خواړه به يې بندي ته وركول.

دلته يوې نكتې ته اشاره كوم هغه دا چې پيغمبر ﷺ د اسير په اړه دومره د خير توصيه كوي، حال دا چې اسير او عام بندي سره توپير لري، اسير هغه چاته ويل كېږي چې هغه دجگړې په ډگر كې اسير شوى وي، او هغه ته ددښمن په سترگه كتل كېږي، خو بياهم رحمت للعلمين ﷺ خپلو صحابه وو ته د هغه په اړه د نېكۍ سپارښتنه كوي.

**د حبس موخې**

**لومړى: د بيا ځلي جوړښت اړخ**

**چې په لاندې ټكو كې څرگنديږي:**

**امن او د ټولنې مصلحت**

امام شوكاني (36) رحمه الله وايي: حبس د پيغمبر ﷺ او هم د صحابه وو او د تابعينو په زمان كې واقع شوى دى، او تر نن ورځې پورې دوام لري، او چايې انكار ندى كړى، او لكه مخكې مو چې يادونه وكړه، حبس د يوې تعزيري جزا په توگه له مصالحو خالي ندى، كه مجرمين همداسې پرته له سزا پريښودل شي، نو يقينى خبره ده چې ټولنه به يې له اضرارو خوندي نه وي، فساد به خپور وي، او كه وژل كېږي، نو داهم پرته له حقه د وينې تويول دي، نوښه خبره داده چې ټولنه د مجرم له شر څخه خوندي اوسي، او په امن كې سره ژوند وكړي، نوځكه ويلي شو، ټولنه حق لري چې مجرم گوښه ځاى كې وساتلى شي ترڅو يې عزت، مال، بدن، حيثيت خوندي وي، نوځكه محبس د ټولنې لپاره امن او هم د مجرم په گټه دى او هم دټولنې.

د قهر او غوسې پر مهال له ظلم او زياتي سلامتيا او خونديتوب دي غوسه او قهر ځينې وخت انسان له كنترول او انصاف څخه وباسي، اومجرم ته داسې عقاب او جزا وركوي چې مستحق يې نه وي، بلكه تجاوز او زياتوالى كوي، او كله چې غوسه سړه شي نو بيا څرگنده شي چې تيرى يې كړيدى، اوكله چې مجرم محبس يا توقيف خانه كې واچول شي، مسئله اوجرم به ترتحقيق او څيړنې لاندې وي، په انصاف اوعدالت به محكمه حكم كوي، نه به د مظلوم حق ضايع كېږي او نه به مجرم ته په سزا وركولو كې افراط كېږي.

**تهذيب او اصلاح**

مخكې مو هم لنډه يادونه كړې وه چې محبس په يوه تربيت ځاى، او اصلاحي مركز باندې بدلېدلى شي، څومره كسان مو ليدلى چې محبس ته بدمعاش تللي او صالح انسانان را وتلي، بى سواده ورغلي، سواد يې زده كړى، جاهلان حبس شوي او عالمان راوتلي، عادي وگړي حبس شوي او حافظان راوتلي، بى كسبه او بى هنره بنديان شوي او دكاسب په توگه را وتلي، خو دا په هغه صورت كې چې د محبس اداره د بنديانو د اصلاح، اخلاقي او بدني روزنې او حرفوي زدكړو لپاره ځانگړي

---

[35] د حديث تخريج مخكې شوې ده.

1 نوم يې ابوعلي بدرالدين محمدبن على بن عبدالله بن الحسن بن محمد بن صلاح الشوكانى په كال ۱۱۷۳ هجرى كې تولد شوى د هجرة شوكان (يمن) په ښار كې،په ماشومتوب كې يې قرانكريم او يو شمير متون حفظ كړي دي، لومړى زدكړيې له خپل پلار څخه ترسره كړي دي، او بيا دزيد بن على بن الحسن دفقه څخه متاثره وو، او وروسته يې په فقه كې ځانگړى نظريات در لودل، او تقليد په خلاف يې كتابونه وليكل، تر دي چې دشعيه گانو يو شمير نظريات يې هم رد كړل

پرگرامونه ولري.

**دوهمه: د محبس جزايې موخه؛ چې په لاندې ټکو کې څرګندېږي**

- **دجرم انګيزه کمول:**

مخکې مو هم يادونه وکړه، چې حبس ديوې تعزيري جزا په توګه يوازې سزا نه بلکه اصلاح هم ده، که يو لوري ته دجرم د انګيزې کمول دي، او نورو ته عبرت دی، ترڅو مجرم او جنايت کار ته دا احساس ورکړي چې دجرم د ارتکاب سره سم به دخپل جرم سزا ګالي، او کله چې دخپل ناوړه عمل په سزا ورسيد، نو د ټولنې نورو وګړو ته دا پيغام رسوي ترڅو دجرم هڅه اوفکر ونکړي، عام وګړي قانون او د نورو افرادو حقوقو ته ژمن اوسي، او يوازې محکمه داحق لري چې د هغه موضوع، حالات ترڅېړنې لاندې ونيسي او دې ټولو حالاتو ته په کتو سره سزا وټاکي، نو ځکه ويلی شو چې د حبس اساسی موخه دا ده چې په ټولنه او په ځانګړې توګه د مجرم ذهنيت کې د جرم او ګناه انګيزه له منځه يوسي، او يايې را ټيټه کړي، او دا ذهنيت ورکول او خپرول چې مجرم به ارو مرو د خپل جرم سزا ګالي، او ټولنې ته دا پيغام رسول چې د قوانينو درناوی ساتل د ټولګړ مکلفيت او د ټولو په ګټه دی، اودا هم ويل په کار دي چې پرته دجرم د ثبوت نه جزا هم نشته، اودا سې ذهنيت جوړول په کار دي، چې ټولنه په دې پوه شي چې يوازې محکمه په دې اړه تحقيق او څيړنه کولی شي، که محبس اومحکمه نه وي، مجرم به د عامو خلکو لخوا له يوه داسې فردي عکس العمل سره مخ شي، چې جرم به نور جرمونه وزيږه وي، اود قانوني محکمې سره ځای به صحرايې محکمه ونيسي.

- **د ښو او د قيقو څيړنوپه موخه د بندي ساتل:**

کله چې په چاباندې اتهامات وارد شي، نوستونزمنه وي چې دلايل راټول شوي نه وي جرم ثابت شي، نو کله اړتيا ليدل کېږي چې متهم توقيف شي، ترڅو يو لړ معاينات او څېړنې ترسره شي، لکه دوينې، دګوتې، دجرم محل او نورې څېړنې، وړاندې کول، اويا پر حکمت له شکنجې او ځورونې پرته اعترافات اخيستل، دا ټول هغه موارد دي چې شخص بايد په توقيف خانه کې تر ټاکلې مودې پورې وساتل شي.

- **مجرم ته دکمې احساس ورکول:**

طبيعي خبره ده چې زندان يا محبس که څومره هوسا هم وي، او هېڅ ډول شکنجه په کې نه وي، او بايد نه وي، د ژوند ټولې اسانتياوې برابرې وي، خو بيا هم زندان دی، انسان چې د هرې کورنۍغړی وي، او هر اجتماعي، سياسي، او... موقف درلودونکی وي، نو بيا هم په زندان کې د کمۍ او عجز او ناتوانۍ احساس کوي، مجرم چې د زندان تورو تمبو ته ولوېږي، د نورو محتاج وي، او کله يې چې جرم هم ثابت شي، هم په خپله په زندان کې دذلت احساس کوي او هم له دې شرمېږي چې په ټولنه کې د يوه مجرم زنداني په توګه معرفي شي، چې دا خپله ده او نوور وګړو ته ستر درس ګڼل کېدلی شي، په ځانګړې توګه چې د يوه ملک نظام په عدالت ولاړ وي، مجرم که هر څوک او هر موقف ولري، کله چې د خپل عمل سزا وګوري، د هغه په نفس کې يو ډول بدلون او انقلاب را منځ ته کېږي، په ځانګړې توګه د ژوندي احساس در لودونکی انسانان.

**د افغانستان د محابسو د قانون له مخې د حبس او توقيف موخې**

افغانستان کې د نورو برخو په څېر د محابسو قانون اوطرزالعمل شتون لري چې په هغه کې د سلب آزادۍ (حبس) د موخو څخه په لاندې ټکو کې يادونه شوې ده:

1. دمحبوسینو او تر توقیف لاندې اشخاصو ښه او ډاډمنه ساتنه
2. د قوانینو، دبشري حقوقو د موازینو، دیني، فرهنګي او اخلاقي ارزښتونو په پام کې نیول
3. دشخصیت دبیا جوړه ونې او بیا روزنې په برنامو کې د محبوسینو او تر توقیف لاندې اشخاصودګډون دزمینې برابرول.
4. ټولنې ته د بیا را ګرځېدو لپاره د سالمو قوانینو او سوله ایز ژوند کونکو اساساتو ته د پام نیونکو افرادو په توګه د محبوسینو او تر توقیف لاندې اشخاصو ارتکاب ته د نه رجوع کولو دروحیې را منځ ته کول (37)

**پرتلنه:**

دحبس اهدا ف د فقهې او قانون له مخې که سره پرتله شي، چندان توپیر نلري یوازې په الفاظو اوعباراتو کې سره توپیر لري، چې د دواړو موخه، د فرد سالم روزل، د جرم او د قوانینو د مخالفت انګیزه کمول، سوله ایز ژوند ته د فرد را ګرځول دي.

دا چې د حبس مو منفي او مثبت اړخونه ذکر کړل، نو مثبت اړخونه پر نسبت منفي اړخونو ته زیات دي، تر ټولو مهمه دا ده که محابس سم وکارول شي، په اصلاحي مراکزو بدلېدلی شي، ځکه په هر انسان کې د مثبت ګرایې، خیرښېګڼې روحیه موجوده وي، دا چې د هغه په اخلاقي، رواني، عقیدوي، اړخونو کار وشي، لرې نه ده چې مجرم به له زندان یا محبس څخه ټولنې ته یو سالم، روغ، او صالح انسان وړاندې شي، نه یوازې دا چې له جرمونو لاس واخلي، بلکه د ټولنې هوساینې، خدمت خیر اوښې ګڼې لپاره ترې کار واخیستل شي، ځکه خو په اوسنۍ نړۍ کې محابس د تربیت او اصلاح مراکز ګڼل کېږي، د محبوسینو د روزنې لپاره منظم پرګرامونه په کار اچول کېږي، آن تردې چې دمحبوسینو لپاره منظم تعلیمي او تربیتي نصاب، کوریکولم په پام کې نیول شوی دی او د بېلا بېلو مراحلو زدکړې په کې ترسره کېږي.

**د حبس اغیزې**

أ. مثبت اغیزې

انساني کړنې په مجموع کې له ځان سره مثبت اومنفي اړخونه لري، اما د مثبت او منفي اړخونو د پرتلې په وخت کې څرګندېږي چې کله مثبت اړخونه زیات وي، د هغه د جواز اوضرورت په اړه حکم کېدلی شي، نو ځکه ما هم هڅه کړېده چې د حبس دواړه اړخونه ستاسو مخې ته کېږدم، او بیا یې پرتلنه وکړم، ترڅو واضح شي چې حبس یوه اړتیا ده، که څه هم له ځان سره زیانونه لري، اما مثبت اړخونه زیات دي، غوره ګڼم چې لومړی مثبت اړخونه یاد کړم.

**لومړی: دشرعي مقاصدو ساتل**

څرګنده خبره ده چې د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو احکام په ټوله کې د انسانانو د مصالحو لپاره وضع شویدي، د هر حکم تر شا اهداف، حکمتونه فردي او ټولنیزې ګټې په پام کې نیول شوېدي، په ځانګړې توګه په جزاګانو کې تر ډېره بریده عامه ګټې او مصلحتونه په پام کې نیول شوي وي، حبس هم یوه تعزیري سزا ده چې مجرم ته دخپل ناوړه عمل په بدل کې ورکول کېږي، ترڅو یو لوري ته په خپلو کړنو له سره غور او فکر وکړي، او بل لوري ته د ټولنې وګړي د ډاډ او آرام ساه اخستلو احساس وکړي دخلکو نفس، ژوند، عزت او مال خوندي وي، او که په غور کتنه وکړو، نو اسماني ټول ادیان ددې پنځ ګونو مقاصدو دحفاظت لپاره نازل شوي دي، چې هغه پنځ ګوني مقاصد ددین، نفس، مال، عقل، او نسل ساتل دي،

[37] قانون محابس وتوقیف خانه ها ماده 2

داد اسلامي شریعت هغه کلي مقاصد دي چې د ساتلو او حفاظت لپاره اسلامي شریعت بېلابېل وسایل ټاکلي دي د مثال په توګه ددین ساتنه:

ددین نشرول، دعوت کول، تطبیق او تنفیذ، او د مخالفت په صورت کې جزاګانې هم ورته ټاکل شوېدي، هغه څوک چې له دین څخه مخ اړه وي سزا یې وژل دي، محمد ﷺ فرمایې چاچې خپل دین بدل کړ نو ویې وژنئ او د نفس ساتلو لپاره یې د قصدي قاتل لپاره یې قصاص ټاکلی دی، او د مال د حفاظت لپاره دغلا کونکي دلاس غوڅول دي، او دعقل ساتلو لپاره یې شراب خورته دورې وهل ټاکلي دي، د نسل او عزت ساتلو لپاره یې زنا کار ته یارجم او یا دورې وهل ټاکلې دي، او ترحبس پورې نورې جزاګانی چې د مجرم شخصیت او جرم ته په کتلو سره ورکول کېږي، چې نوعیت او کېفیت یې دواړه سره توپیر کوي، له لفظي ملامتیا نیولې تر اعدام پورې، دوخت عادل واکمن او قاضي په دې برخه کې لوی لاس او واک لري چې دا رنګه سزا ګانې بیا تعزیر ګڼل کېږي.

مهمه یادونه: تعزیري سزاګانې نن سبا په اسلامي هېوادونو کې په ځانګړې توګه افغانستان کې د جزا قانون په بڼه یې کمیت او کېفیت دواړه ټاکل شوی دی، تر څو په محاکمو په اساني سره پرېکړه وکولی شي، او د تر یوه بریده د احتمالي فساد مخه ونیسي.

**دوهم: حبس دیوې تعزیري جزا په توګه د ټولنې لپاره رحمت دی:**

لکه څرنګه مو چې مخکې هم یاد ونه وکړه، دقوانینو وضع کېدل اصلا ددې لپاره دي چې په ټولنه کې نظم او استقرار وساتل شي، اویوه ډاډمنه فضا را منځ ته شي، ترڅو هر وګړی دهراړخیزه خوندیتوب احساس وکړي، همدا یې ستر توپیر دي چې په اسلامي ټولنوکې مسلمانان یو لړ احکامو ته دیوه دیني مکلفیت په بڼه ژمن وي، او ایمان لري چې د مخالفت په صورت کې به په دنیا اوهم اخرت کې سزا ګالي، او که خلک پرته له قوانینو آزاد او خپل سریو ته پرېښودل شي، نو د ځنګل قانون به حاکم وی، زور به د زور لرونکو وي، وحشت اودهشت به خپور وي، دچا به نه سر، نه مال، او نه عزت خوندي وي، او که په ټولنه کې یوڅوک دخپل ناوړه عمل په سزا ورسېږی، نور افراد به د راحت احساس وکړي، او ټولنه به د الهې رحمت وړ وګرځي، ځکه الله تعالی عدالت خوښونکې ذات دی، نوځکه حبس دخلکو لپاره د ډاډمنې فضا په رامنځ کولو کې یو رحمت ګڼل کېږي، په ټولنه کې اجتماعي عدالت پلي کول، د امنیت د تامینولو باعث ګرځي، امنیت او ډاډمنه فضا هغه ستر نعمتونه ګڼل کېږي، چې اهمیت یې په چا پټ ندی، او قوانین د یادو موخو (امنیت، عدالت) د تحقق لپاره الهي رحمت ګڼلی شو.

**دریېم: د عدالت پلي کول:**

دعقوباتو د تعیین او سزا ټاکلو یوه موخه همدا ده چې په ټولنه کې عدالت پلی شي، دمظلوم حق ورکړل شي، د ظالم لاس ونیول شي، او سزا وویني، اوبالاخره یوه مرجع موجوده وي چې مظلوم ورته غږ ورسوي، او د هغه غږ واورېدل شي، اود ټولنې وګړي هم په دې پوه وي چې د قوانینو په سرغړونه، اود ناوړه عمل تر سره کولوپه صورت کې به دخپل عمل سزا ورته رسېږي، او هغه څوک چې په سزا باندې رسېږی، نور افراد به له هغه څخه پند اخلي، په ټولنه کې به د وحشت اوتېري په ځای دعدالت فضا خپره وي، ظلم، زور واکي، جرم، فسق، فجور شرک، کفر، بدعات خرافات، هرڅه به تر کنترول لاندې وي، او اجازه به نه ورکول کېږي.

**څلورم: د مجرم یا جنایت کونکې اصلاح:**

د حبس د سزا څخه یوه ستره موخه دا هم ده چې د مجرم په اصلاح، ذهني، عقلي او تربیتي جوړښت باندې کار وشي، د هغه اخلاقی جوړښت او اصلاح، د ضمیر ژوندي کولو، اوبیرته ټولنې ته د یوه ګټور او مفید عنصر په توګه وړاندې کولو په موخه په محبس کې تربیتي پرګرامونه په پام کې نیول کیږي.

مجرم چې څو میاشتی یا کاله په خلوت کې تیر کړي، په خپلو کړنو له سره غوره وکړي، د الله له حکم څخه په سرغړونې ندامت وښيي، او د حسرت اوښکې تویې کړي، او له الله ښښنه وغواړي نو یقیني خبره ده چې یو ښه انسان به ټولنې ته راوګرځي، او محبس به ورته د یوه روزنتون په توګه ګټور تمام شي.

په محبس کې له خلوت او فراغ نه په ګټې اخیستنې سره خپل علمي توښه هم زیاتولي شي، یو شمیر علماوو د محبس څخه ځومره لویه ګټه اخیستی ده، لکه امام سرخسي، علامه ابن تیمیه، شهید سید قطب، مولوی عبدالسلام رستمي رحمهم الله جمیعا، او داسې نورو، لوی لوی کتابونه یې په بندي خانو کې لیکلي، چې تر نن ورځې ترې ګټه اخیستل کیږي.

ب. د حبس منفی اغیزې

حبس دیوې تعزیري جزا په توګه یو شمیر مثبت اړخونه لري چې مخکې مو یادونه وکړه، بل لوري ته یو شمیر منفي اړخونه هم لري چې په لنډه توګه یې یادونه کوم:

**لومړی: حبس د بشري قوی د بې کاره کېدلو سبب ګرځی:**

کله چې یو څوک د یوه جرم د ارتکاب په وجه په زندان کې واچول شي، له ټولنې جدا شپې ورځی تیره وي، او غالبا بندیان په فزیکې ډول روغ کسان وي، دکار او تولید توان لري، داچې دوی په زندان کې واچول شي یو لوی بشري ځواک معطل شو، ددوی کاري استعداد اوهم عقلی استعداد او وړتیا له کاره ولوېده، او بل لوري ته دولت مکلف دی، چې د هغه خوراک، څښاک هستوګنځي لګښتونه ومني، چې دا په خپله ددولت خزانی ته یوه لویه ضربه ده، د دولت اقتصاد ټکنی کوي، په داسې حال کې چې ددولت د پرمختګ لپاره ستره سرچینه بشري ځواک ګڼل کیږي، دلته نه یوازې دا چې ستر بشري ځواک عاطل اوباطل وګرځید، بلکه په هغه باندې لګښت هم راځي، په ځانګړې توګه که نن سبا په هېواد کې د محابسو حالت ته کتنه وکړو، د محبوس یا بندي بیا ځلي اصلاح روحیه ډیره کمزورې ده، ډیر ځلې محابس د ناسم چلند په وجه د کرکې په مرکز بدلیږي

**دویم: په کورنۍ باندې ناوړه اغیزې:**

کله چې محبوس یا بندي په بند محکوم شي، دکورنۍ سرپرست، یا هغه کس چې د نفقې مسولیت په غاړه لري، کورنۍ، اولادونه یې له سترمالي ګواښ سره مخ کیږي، په ځانګړې توګه که بل وړ شخص په کورکې ونلري، او هم یې د ماشومانو او میرمنې او کورنۍ نورو غړو په رواني اونفسي حالت ناوړه اغیز کوي، د ماشومانو تعلیم او روزنه یې له ګواښ سره مخ کیږي، ډیري داسي واقع کیږي، چې د بندي اولادونه د ټولنې په اوږو باندې یو بل پیټی جوړ شي.

بل لوري ته د شخص او ټولنې ترمنځ واټن پیدا کیږي، خلک بندي ته په ښه سترګه نه ګوري په ټولنه کې بې نوم بدیږي، د یوه مجرم په توګه یادیږي، کله چې ټولنه ورنه کرکه وکړې، طبیعی خبره ده چې هغه به هم د ټولنې په وړاندې کرکه کوي، اوزیات احتمال لري چې بیا هم په ناوړه کړنو لاس پورې کړي.

**دریيم: محبس دجنايتونو د تجربو د تبادلې د يوه مرکز په توګه:**

کله کله داسې واقع کېږي چې مجرمين يوبل سره دخپلو جرمو او جنايتونو کېسې تبادله کوي، تجربه زده کوي، ماهرين مجرمان دنورو لپاره د افساد سبب جوړېږي، ډېري داسې بنديان شته چې کله زندان ته ځی نوديوه جرم مرتکب اويوې تجربې درلودونکی وي، اما کله چې له زندان څخه راوزي، له نورو زندانيانو يې د جرم د ارتکاب ډير هنرونه ياد کړي وي، او دا به هم ډېره ستونزمنه وي چې هر بندي ته ځانګړې خونه ورکړي، اود خبرو کولو اجازه ورنکړي، او داهم نشي کېدلی چې د هر بندي په سر يو څا رونکی او مراقب وټاکی، اوهغوی په کلي توګه له خبرو محروم او له نورو سره اختلاط کولو نه منعه کول د هغوی د اساسی حقوقو خلاف کاردي.

**څلورم: محبس د تنبلي او هم روغتيايي ستونزو لامل ګرځي:**

طبيعي خبره ده چې بندي په محبس کې مفت خوري او ښبي، چې دا په خپله د انسان لپاره دسستی، تنبلی، اوهم د احساس نشتوالي لامل ګرځي، اويا خو په انسان کې د کارکولو احساس کمزوری کوي، او کله خو د زياتو ناروغيو لامل هم ګرځي، چې دا يوه بله ستره ستونزه ده چې اضرار يې يوازې مجرم ته نه بلکه، کورنۍ او ټولنې ته هم ورګرځي، په ځانګړې توګه هلته څوکسان په يوتنګ ځای کې واچول شي، دساري ناروغيو د انتقال لامل ګرځي.

څرګنده خبره ده چې هرشي منفي او مثبت اړخونه لري، فقهی قاعده ده چې وايي: إِذَا تَعَارَضَ مَفْسَدَتَانِ رُوعِيَ أَعْظَمُهُمَا ضَرَرًا بِارْتِكَابِ أَخَفِّهِمَا (38)کله چې دوه مفسدې سره يوځای شي نو کوچنۍ ضرربه دلوی ضرر د دفع په خاطر منل کېږي، د ټولنې امنيت، د شرعی مقاصدو ساتنه، په ټولنه کې داډ من ژوند ترسره کول د جرم او جنايت مخنيوی، ټولنه له فساد پاکه ساتل، هغه ستر اهداف دي چې شريعت يې د حفاظت لپاره احکام مقرر کړي، بل لوري ته دحبس ياد اضرار ددې سترو مقاصدو په پرتلنه کم دي، ځکه خو علماوو حبس ته جواز ورکړی دی، په ځانګړې توګه کله چې محبس د يوه تربيوي، حرفوي، مرکز رنګ غوره کړي،، که څه هم له حبس څخه د جزا کار اخيستل کېږي اما موخه يې يوازې سلب آزادي نه، بلکه صالح او سالم وګړي ټولنې ته وړاندې کول دي، چې يوځل بيا د الهي او هم د انساني قوانينو درناوی وکړي، او د جرم د ارتکاب روحيه، دخدمت کار کولو، پرمختګ په روحيه غلبه پيدا کړي، په ټولنه کې مدغم شي، دخيراوښېګنې روحيه يې پياوړې شي، په ټولنه کې خپل مسوليت د ځان او نورو په وړاندې وپېژني له جرم څخه لاس واخلي.

**پايېزه**

د بحث مهمې پايلې:

1. له اوږدې مودې راهيسې د حبس او محبس سزا به بشريت کې دود ده چې پخوا به د انتقام او يوازې د جزا په موخه ترسره کېدله، خو اوسني قوانين او فقه د حبس څخه د تعزيري سزا ترڅنګ، د مجرم په اصلاح باندې هم فکر کوي، څو يو ځل بيا ټولنې ته د خدمت مصدر وګرځي، يعني ټولنې ته د يوه سالم وګړي په توګه راستون شي.

1الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ ,الشَّيْخ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ بْنِ إِبْرَاهِيْمِ بْنِ نُجَيْمٍ .ج 1ص 89

الناشر: دار الكتب العلمية،بيروت،لبنان،ط ١ 1400هـ=1980م

الأشباه والنظائرعبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي ـ دار الكتب العلمية: 1403: بيروت ط 2

2. توقيف د لنډې مودې لپاره وي، څو د قضيې په اړه تحقيق وشي، خو حبس بيا د محکمې د حکم يا پريکړې نه وروسته را منځ ته کيږې چې موده يې د جرم په نسبت بدلون کوي د توقيف په موده کې فقه او قانون تر توقيف لاندې کسانو ځور ونې تعذيب وهل ټکولو ته اجازه نه ورکوي.
3. حبس په هغه جرايمو کې ورکول کيږې چې هلته حدود نه وي، بلکې يوه تعزيرې سزا ده چې د کيفيت او کميت واک يې قاضي ته سپارل شوى دى ، او هيڅکله حدود بايد تعطيل نه شي.
4. حبس که له ځان سره منفي اړخونه لري لکه د هغه په کورنۍ منفي تاثير، د محبوس په رواني حالت ناوړه اغيزه، يوه لويه بشري قوه له کاره لوېدل او نور، خو بل لوري ته بيا مثبت اړخونه هم لري چې تر ټولو مهم يې په حدود او تعزيراتو کې د د شريعت د مقاصدو ساتل دي، د فرد په فکري او اخلاقي جوړښت باندې کار کول يې يوه بله مثبته ځانګړنه ده چې په ټوله کې د جرم روحيه او انګيزه کموي.
5. حبس زيات لاملونه لري چې شخړې او جګړې يې ستر لامل دى، د جنګي اسير په اړه حکم د جمهورو فقهاوو په نظر واک او اختيار امام ته سپارل شوى دى چې د وخت مصلحت ته په کتلو يې عادلانه او له مصلحت ډک حکم وکړي.
6. هغه حدود چې د تطبيق شروط يې پوره نه شي، قاضي کولى شي چې هغه مجرم به تعزيري سزا محکوم کړي.

**د محابسو د اوسنى وضعيت په اړه چارواکوته څو اړينې سپارښتنې:**

د افغانستان د بشري حقوقونو د ۱۳۹۴ لمريز کال د ځانګړې راپور پر بنسټ چې په ۳۱ ولاياتونو کې د ساحوي دفترونو له لارې له محابسو او توقيف ځايونو له نږدې او مخامخ ليدنې پر بنسټ چمتو شوى چې په ټول هېواد کې په حبس محکوم، تورن او شکمنو کسانو شمېرنه څه کم ديرش زره تنو ته رسېږي، او دا د پخوا پر تله د بنديانو په شمېر کې زياتوالى ښيي، راپور د محابسو په وضعيت او هم د زندانيانو سره پر چلند اندېښنه ښودل شوې ده.

راپور يادونه کړې چې د محابساو توقيف خانو په نوم قانون، د محابسو له وضعيت او بنديانو سره د چلند سره په عملي برخه کې بيا د ځمکې او اسمان توپير لري، محبوسين له خوراک، روغيتا، نمجنى ځمکې، تودوخې او يخوالي نه شکايت کوي.

په راپور کې يادونه شوې چې هغوى ځورول او ربړول کيږې، ډېرى داسې بنديان هم شته چې لا هم بې برخليکه دي، داسې هم شته د بند موده يې پاى ته رسيدلې، خو بيا هم دوى په بند کې ساتل کيږې، د حرفې، زده کړې، تعليم او تربيې کچه يا خو ډېره لومړنۍ او يا خوپه ځينو محابسو کې هيڅ شتون نه لري.

له بنديانو سره د وهلو او ټکولو او شکنجو داسې چلند ترسره شوى دى چې له راپور سره مل انځورونه له اسلامي او انساني ارزښتونو سر غړونه څرګندوي.

بنديان ددې پر ځاى چې و روزل شي، مجدد اصلاح شي، په عقده منو او کينه ګرو اشخاصو بدلېږي چې دا په خپله د هيواد ثبات او امنيتي حالت له ګواښ سره مخ او ټکنى کوي.

ډېر داسې محابس هم شته چې هلته له شخصي عقدو کار اخيستل کيږې، د زور او اکراه له لارې له بندي اقرار اخيستل کيږې، او يا خو د مادي او شخصي ګټو په خاطر د اوږدې مودې لپاره په بند کې ساتل کيږې، دوسيې يې تر

څېړنې لاندې نه نیول کېږي[39] نو پر همدې بنسټ څو وړاندیزونه کوم:

1. د محابسو او توقیف ځایونو مقرره او قانون دې په عملې ډول تطبیق شي او لږ تر لږه په کال کې دوه ځلې د تطبیق نظارت ترسره شي.
2. د محابسو او توقیف ځایونو ریاست باید د محابسو اداري کارکوونکو پولیسو ته ځانګړې روزنه ورکړي، وخت په وخت یی ظرفیتونه لوړ شي، تریننګ ورکړل شي، څو وپوهېږي چې له بندي سره باید څنګه چلند وشي؟
3. محبس کې واقعي اروا پوه، دیني عالم او دا سې روغیتایي معالج وګومارل شي، چې محبوس په تدریجي ډول تربیه او د اصلاح مجدد لوری سوق کړي، د محبوسینو له شته استعدادونو د هېواد په ودانی، پرمختګ او هوساینه کې کار واخیستل شي.
4. په هر محبس کې د محبوسینو د نظریاتو او شکایاتو صندوق ایجاد شي او وخت په وخت خپله د محابسو ریاست له لارې پرانېستل شي او غور پرې وکړي.
5. د محبوسینو روزنې او حرفوي زدکړو ته ځانګړی پاملرنه وشي او هڅه وشي چې د زده کړې بهیر سیستماتیک شي، د نړی له تجربو ګټه ترلاسه شي چې په زندانو کې تر پوهنتون پورې زده کړې سر ته ورسوي، داسې سیستم ورته جوړ شي چې شخصي زده کړه وکړي او مطالعه ولري، کله کله لاربنود استاد ورشي، ازموینه ترې واخلي او پایلو ته یې د پوهنې وزارت او د لوړو زده کړو وزارتونو د رسمي زده کړو په حیث قایل شي.
6. زنداني ته د ناروغ په سترګه وکتل شي او په درملنه کې له حکمت او تعقل څخه کار واخیستل شي، د انتقام اخیستنې او کینې روحیه باید له منځه ولاړه شی
7. له دولت څخه هیله کېږي چې محابس په معیاري او منل شوي نورم باندې ودان او عیار کړي، ددې لپاره د پراختیایي بودیجې اړتیا محسوسېږي چې د محابسو ریاست ته ځانګړې شي.
8. د محابسو شورا چې د محابسو او توقیف ځایونو په ۱۳ مه ماده کې ورته اشاره شوې ده او له ګنو ارګانونو متشکله ده، باید عملا لاس په کار شي، په هرو دربېو میاشتو کې خپل فعالیت ترسره کړي، څو اړوند وزارتونه د محابسو په اړه ورسپارل شوی دندې په ښه توګه ترسره کړي.
9. دولت ته وړاندیز کېږي چې د نظارت کمیټه چې د محابسو او توقیف ځایونو په ۵۲ مه ماده کې یې یادونه شوې ده، زر تر زره فعاله کړي، څو د هر ډول تخلفاتو(سرغړونو) او خپل سریو مخه ونیسي.
10. د عدلیې وزارت ته وړاندیز کېږي چې د کورنیو چارو وزارت سره په همغږی، د محبوسینو کار کوونکي او موظفین داسې وروزي چې د محبوسینود حقوقو اومسولیتونو په اړه بشپړ معلومات ولري اود ځانګړو مهارتونو در لودونکي وي.
11. د محابسو او توقیف ځایونو ریاست ته وړاندیز کېږي چې له یو شمېر موسساتو سره اړیکي ټینګې کړي او ترینه وغواړي چې وخت په وخت د یو شمېر متخصصو تړینرانو له لوري محبوسینو ته په بېلابېلو برخو کې تریننګ ورکړي.

[39] د راپور لنډیز او نچور، له لږ تصرف سره.

12. هڅه دې وشي چې يو شمېر هغه محبوسين چې په کومه برخه کې د ځانګړي مهارت در لودونکي دي، د حبس د پای ته رسېدو وروسته سمدلاسه مربوطه مرجع ته معرفي کړي، له مهارت يې کار واخيستل شي او حقوق يې تامين کړي.

13. د تقنين رياست ته وړانديز کوم چې د حبس په بديل باندې فکرې، لکه په فابريکو کې جبري کار کول، ملي پوليس او ملي اردو کې په کار ګمارل، له يو مقدار معاش سره د هغه په روزلو کار کول، او همدا راز په حرفوی مراکزو، ټولنيزو خدمتو موسسوته معرفي کول او داسې نور.

## منابع او مآخذ


1. القران الكريم
2. السجن وموجباته محمد بن عبدالله الجريوي ص 184 الناشر ادارة الثقافه والنشر بالجامعه , عام 1991
3. الكامل في التاريخ لإبن الأثير دارالكتب العلمية بيروت لبنان
4. مجموع الفتاوى، تقى الدين احمد بن تيميه الجرانى ، ط ۳ / ۲۰۰۵م دار الوفا للنشر والتوزيع
5. السيرة النبوية لإبن هشام, عبد الملك بن هشام بن ايوب الحمير المعافري، ط ۱، دارالجيل بيروت.
6. المنهاج شرح صحيح مسلم بن أبو زكريا يحيى بن شرف بن مري النووي
7. الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت الطبعة الطبعة الثانية، 1392
8. عمارة السجون , عبد الوهاب مصطفي ضاهر بيروت لبنان ط ۱ /۲۰۰۱۴م
9. السجن وموجباته في الشريعة الاسلامية , د كتور محمد عبد الله الجريوي طبع 1, الناشر ادارة الثقافة والنشر بجامعة الامام محمد بن سعود
10. نظام الحكومة النبوية المسمي بتراتيب الإدراية , محمد عبد الحي الكتاني
11. الناشر: شركة دار الأرقم بي ابي الارقم لطباعة والنشر والتوزيع
12. الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ ,الشَّيْخ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ بْنِ إِبْرَاهِيْم بْنِ نُجَيْمٍ ـ دار الكتب العلمية: 1403: بيروت ط 2
13. السياسة الشرعية في اصلاح الراعي والرعية: شيخ الإسلام تقي الدين أحمد بن عبد الحليم ابن تيمية الطبعة: الأولى
14. الناشر: وزارة الشئون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد - المملكة العربية السعودية
15. تاريخ النشر: 1418هـ
16. 1لحبس الاحتياطي في ضوء القانون ص ۲ دكتور عبدالروف مهدي
17. د جزايي اجرآتو قانون ۱۳۹۳
18. قانون محابس وتوقيف خانه ها
19. العين.أبو عبد الرحمن الخليل بن أحمد بن عمرو بن تميم الفراهيدي البصري (المتوفى: 170هـ)
20. المحقق د مهدي المخزومي، د إبراهيم السامرائي
21. لسان العرب لابن منظور الافريقى،دار الآفاق العربيةسنة النشر: 1422هـ - 2002مكان النشر: مصر